# دافغانستان جمهوري رياست ته د ټولټاکنو دپايلې په هکله
# د افغانستان دآينده غورځنګ اعلاميه

د۱۳۸۸ کال د لړم ۱۰ / د۲۰۰۹ کال د نوامبر لومړی نېټه

د افغانستان جمهوری رياست ته د ټولټاکنو له درغليوډک او نادېموکراتيک بهير پای ته ورسيد.

دويم پړاو ته د نوماندو يوتن کښ‌دل، دافغانستان د اوسني دولتګونی دسياسي او رښتيزو (حقوقي) بنسټونو د بې بنياد او نا دېموکراتيک منځپانګو ځرګند ښکارندوی دی.

دويم پړاو ته د ټاکنو دلېږدولو هلې ځلې چې په افغانستان کې د واکمنې ارتجاع ديوې برخې له خوا تر سره او د بهرنيو واکدارانو د زور په چلولوسره پلې شول، د ټولټاکنو څخه پرته يې بله موخه درلود.

شپږ مياشتې ترمخه دافغانستان جمهوری رياست ته دټولټاکنو په هکله دافغانستان آينده غورځنګ د خپل تاريخي اعلاميې په ترڅ کې (۱۳۸۸ کال دغويي مياشت – د ۲۰۰۹ کال د مي مياشت) يې د منځنيو پېړيو د واکمن نظام او د هغه غير دېموکراتيک منځپانګه په ځرګند او رښتيني توګه وڅيړل او دافغانستان خلک يې په داسې يو شرمونکي پېښه کې نه ګډون ته راوبلل: «دافغانستان آينده غورځنګ په دې باور دی چې، دافغانستان دېموکراتيک او پرمختللی غورځنګ دنده لری ...

-1 د« خوځندنه ګډون » د لارې په غوره کولو سره، د تبليغاتی شونتياو څخه په ګټې ، پرهېزواد باندې د واکمن نظام دېموکراتيک ضد، ارتجاعی، خوسا، ملي ضد، ازادی ضد، سياسی خپلواکی ضد او فرهنګ دښمنه منځپانګه په ډاګه کړی؛ په داسې اکر کې چې دټاکنو پايلې لا پخوا ځرګندې دي او ځواکمنه ډله په وګړ غولونکې توګه ټولو نوماندانو ته ديوشانته شونتياو د شتون تبليغ کوي، په ټاکنو کې ګډون د لاسپوڅې، ارتجاعي، ناکاره او خوسا ځواکمنی د مشروعيت لامل ګرځي. حال داچې په هره کچه که د ګډون کونکو برخه ټيټه وي په هماغه کچه به د ځواکمن نظام او واکمنې ډلې رښتينې څېره اووګړنيز ضد منځپانګه بربنډ شي؛

-2 خلک، پرمختللي او دېموکراتيک سياسي، فرهنګي او ټولنيز بنسټونه دې دتش په نامې ټولټاکنو کې چې يو ځل بيا به کرزی او يا د هغه يو ملګری د ځواک پرګدی دپاتې کېدو لامل شي ،دنه ګډون لپاره راوهڅوي»

«خوځند نه ګډون» چې دا افغانستان دآينده غورځنګ له خوا د دېموکراتيکو ځواکونو د بنسټيز شعار په توګه وړاندې شوی وو، ورو ورو يې پر نظام پورې تړلو سياسی ځواکونو باندې هم اغېزه وکړ. دلومړي پړاو پايلې وښودل چې دټولټاکنو په هکله د افغانستان دآينده غورځنګ څېړنې او وړاندوينې ټول سم او له رښتيا سره مل ول.

له هماغه پيل څخه ددې بهير بې ګټې پايله په ګوته شوي وو. دادی عبدالله چې ددې بهير له بنسټيزو برخوالو څخه وو پخپله د درغليو، بې ګټې او ناروڼ بهير ځرګندونه کوی او ځان ترې ګوښه کوي.

دافغانستان آينده غورځنګ په خپله دويمه اعلاميه (دافغانستان جمهوری رياست ته د ټولټاکنو په هکله دافغانستان د آينده غورځنګ د مرکزی شورا اعلاميه) کې ګواښنه کړی و: «د ټولټاکنو بهير دا وښودل چې سياسی ـ نظامی ځواک له يوه مخه د منځنيو پېړيو دارتجاع اودنشه يي توکيو د مافيا په واک کې دی. ديو پر بل پر وړاندې ددوو لومړيو نوماندو دربدل يواځې په ګروهې، توکميز، او شخصي ګټو ولاړ دی. هيڅ يو

داسي ايډيالوژيک ـ سياسي توپير د هغوی په ټکلاره کې نشته، دواړه په منځنيو پېړيو ارتجاع پورې تړلي دي او دواړو د ننني نا وګړنيز نظام په جوړولو او رامنځته کولو کې يو شانته برخه درلودل، دواړه د بهرنيو ځواکونو استازي دي او په پراخو درغليو کې يې اغېزمنه برخه درلودل.

ديو پاتې کېدنه او ياخو د بل ټاکنه به د هېواد دخلکو په ژوند او اکر کې هيڅ بدلون رانولي. نو ددې څرګندو ټکو په پام سره بايد چې د هغو په لوبو کې ګډون ونکړو. بايد ډېر هوښيار او سو چې، دوی به دخپلو نارښتينو موقفونو څخه په ګټې سره، هېواد يو ځل بيا د جهادی خپلمنځيو جګړو باندې اخته کړي. دکابل کلي او کوڅې لا تر اوسه د جهادي واکدارانو ترخې خاطرې له ياد ه ندي باسلي. دېموکراتيک او پرمختللي ځواکونه دې بايد دغه له خطره ډګه لوبه او د دغو دوونوماندوترلاسه شوی نامشروع او تقلبی موقفونه په ډاګه کړي. د ټولټاکنو ددويم پړاو تر سره کول به يواځې يوه بله لوبه وي چې د نظام د پاتې کېدو او نړيوال غوسې چې نور نو دداسې يو وروسته پاتې نظام څخه دفاع بې ګټې بولي، دراکېنولو لپاره تر سره کېږي. پرمختللی او دېموکراتيک ځواکونه دې بايد د يو غوځ او روڼ موضع په غوره کولو سره ددويم پړاو ترسره کېدلو اصلي موخه چې دپراخو درغليو د «ترميم» لپاره به ترسره شي په ډاګه کړي.هيڅ يو تصنعی ګام نشي کولای چې دنظام منځپانګه واړوي.

په خواشينی سره په داسې اکر کې چې دېموکراتيک بلونج (التـرناتيف) لاندی جوړ او کېن او پرمختللي ځواکونه سره يو موټی ندي، د ارتجاع ځواک به هرو مرو مخته ځي. د ټاکنو بهير راوښودل چې لا هم زوړ ارتجاع داغيز او خوځښت او چل ول پراخ مالي ـ نظامي شونتياوې د خپل ځواک د ټينګولو لپاره په واک کې لري او لا هم د ناتو تر سيوري لاندې دی.»

وروستيو پېښو دا خبره په ډاګه کوي چې کرزی پر خپل پخواني ګدی بيا پاتې کېږي او په غوځ ګومان سره دا انګېرل کېږي چې د پخوا په شان به د نوماندو يوه برخه په ځواک کې ګډ شي. ددې خواشينونکی اکر ددوام يولامل هم هېواد په سياسي اکر کې د کېڼ، هېوادپال او دېموکراتيکو ځواکونو نشتوالی دی. دافغانستان آينده غورځنګ په وار وار دا څرګندکړ چې ددېموکراتيک بلونج تشه به دجمهوری رياست ټولټاکنې په يوه «ناپېښه» واړوی، رواني چارې ددې خبرو پخلی وکړ.

افغانی کېڼ ځواک دې بايد چې اوس ځان دمنځنيو پېړيو د ارتجاع د ځواک پر وړاندې يواوړد اپوزيسيونی بهير ته چمتو کړی. ناسوچه زغلنده کړنې، سرسری او سياستپال څېړنې او د پخوانيو زوړ آندو او ناکارو لارښودونکو پسی چې نور نو دهېواد له تاريخ او جغرافيې څخه پردي دي دبنده ګانو په څېر تلل، ليبراليستی آند اود ناتو ترځواک لاندې په اوسنی جهاد سالاری نظام کې د خلکود ژوند ښه کېدو ته زړه ښه کول، هغه لاملونه ول چې دهېواد کېڼ او دېموکراتيک غورځنګ ته يې صدمه ورکړه.

دافغانستان دآينده غورځنګ وروستی وړانديز د يو هېوادپال – دېموکراتيک ټولنې جوړول چې د کېڼ، پر مختللی، دېموکراتيک او هېوادپالو سازمانونو څخه جوړ شوی وي، د اوسني اکر څخه د پرمختللو ځواکونو درا ايستلو له پاره يوه لاره پرانيزي. دغه وړانديز دهېواد د اصيلو دېموکراتيکو سازمانونو او په ټوليز دول دپرمختللی غورځنګ له ښه غبرګون سره مخامخ شو. نور نو بايد چې د هغه دپلي کولو لپاره عملي کړنې په غوڅه توګه تر سره شی او افغاني مخکښ غورځنګ ته نوي سا ورکړل شي.

دافغانستان دآينده غورځنګ اجراييه ډله

د۱۳۸۸ کال دلړم ۱۰ د ۲۰۰۹ کا ل د نوامبر لومړی نېټه